**د یوه کمربند او یوې لارې نوښت د 10مې لسیزې لمانځل: د شېنګهو وا پوهنتون د نړیوالې پراختیا په وده کې د شېنګهو وا د خلکو رول په ګوته کوي**

بیجېنګ، اوکتوبر 30، 2023 /PRNewswire/ -- د شېنګهو وا پوهنتون استادانو، محصلینو، او فارغ التحصیلانو د یوه کمربند او یوې لارې په نوښت (BRI) کې د خپل ګډون له لارې د خپلو هغو نوښتي نظریاتو او هڅو د راغونډولو تجربې سره شریکې کړې چې نړیوال پرمختګ ته لاره هواروي او یو له بله سره تړلې او نه بېلېدونکې نړۍ رامنځ ته کوي.

دغه مرکې د هغه نوښت برخه ده چې د شېنګهو وا پوهنتون د یوه کمربند او یوې لارې انسټیټیوټ لخوا په 2023 کې د BRI د 10مې کلیزې د لمانځلو لپاره پیل شوی دی. پر [یوټیوب] باندې خپره شوې ویډیو د شېنګهو وا ټولنې د غړو له خوا د یوې لسیزې اغیزې په ګوته کوي کومې چې د اکادمیکې تبادلې او د BRI په کچه هیوادونو کې د مهمو زیربنا د پیاوړتیا له لارې په دې لېږدوونکي نړیوال خوځښت کې مهم رول لوبولی دی.

**ژاوو کیجین، د شېنګهو وا پوهنتون د ټولنیزو علومو د ښوونځي استاد او مرستیال رییس،** د فاکولټې له غړو څخه و چې په اوایلو کې یې د BRI په پراختیا کې مشارکت درلود. هغه او د هغه همکارانو د اړوندو وزارتونو او کمیسیونونو له خوا په جوړو شویو غونډو کې برخه اخیستې او د راپورونو له لارې یې حکومت ته بصیرت لرونکي نظریات وړاندې کړي دي. په 2007 کې، نوموړی له داسې ټیم سره یوځای شو چې د یوه کمربند یوې لارې د فورم د تاسیس مشري یې کوله، او په نړیواله کچه د نړیوالو مسایلو د حل په موخه یې داسې چینایي حللارې وړاندې کولې چې هدف یې "د چین د غږ وړاندې کول او د نړۍ د اقتصاد په زړه کې د چینایي پالیسیو توضیح کول وو. "

**د شېنګهو وا پوهنتون د یوه کمربند او یوې لارې د انسټیټیوټ اجرایوي رئیس شي ژیکین** "د پالیسۍ د سلاکار" په توګه د پوهنتون هغه رول څرګند چې د BRI د ستراتیژیکي پراختیا په موخه یې د چین د مخکښو فکري مرکزونو په ګډه همکارۍ لویې څېړنې او کارونه ترسره کړي دي.

**د ژورنالیزم او مخابراتو د ښوونځي استاد او د شېنګهو وا پوهنتون د نړیوالې وړتیا او نهرنیو کړنو استاد هو یو وویل:** "تعصبات ډېر کله د پوهاوي د نشتوالي له امله رامنځ ته کیږي ، نو له همدې امله لومړی لاس معلومات خورا مهم دي." د چین او نورو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزه تفاهم د پراختیا په موخه، نوموړي یو لړ علمي او کلتوري تبادلې تنظیم کړې چې د بېلا بېلو کلتورونو او ټولنو د بصیرت په ترلاسه کولو کې یې د محصلینو او د پوهنتون له کارکوونکو سره مرسته وکړه.

**د سېول انجینرۍ د برخې فارغ التحصیل، ژینګ هاوو،** د محصیلینو یو له هغو استازو څخه دی چې د ملګرو ملتونو د آسیا پسیفیک ځوانانو د تبادلې په پروګرام کې یې برخه اخیستې وه. هغې د تایلینډ په محرومو سیمو کې څېړنې ترسره کړې، چې داسې یوه تجربه ګڼل کیږي چې هغې ته یې داسې هیلې ښنلې دي چې غواړي "نړیواله ملکي کارمنده" شي.

**په سینهایډرو دفتر 11 شرکت لمیټډ کې د افریقا څانګې مرستیال کاو فینګز، او د شېنګهو وا پوهنتون یوه فارغ التحصیله محصل،** د هغه الهام ښنونکي سفر په اړه معلومات شریک کړل چې له نوموړي سره یې په زیربنایي پروژو کې د ښکیلتیا له لارې د افریقا په کچه د نړیوالې ټولنې لپاره د شخصي ارزښتونو په موندلو کې مرسته وکړه.

هغه برج چې د چین او مصر تر منځ د ډیپلوماتیکو اړیکو د 65مې کلیزې په مناسبت په 2021 کال کې رغول شوی دی او د مصر په نوې پلازمېنه کې د 385 مترو په لوړوالي سره د نوي CBD په افقي کرښه کې موقعیت لري، چمتو دی ترڅو د افریقا په کچه د تر ټولو لوړې ودانۍ لقب خپل کړي. **د شېنګهو وا پوهنتون فارغ التحصیله محصل او د یادې پروژې عمومي مدیر ژانګ ییکېنګ** د ډیزاین اجزاوې تشریح کړې چې هم په ساختماني چارو کې د چین تخصص څرګندوي او هم د دواړو ملتونو ترمنځ د تلپاتې اړیکو سمبول ګڼل کیږي.